**د مړيني، استعفا، په ناعلاجه او داسي ناروغي د اخته کېدو په صورت کې چې د هغه د نوماندي مخه نيسي د ولسمشري نوماند د نوي مرستيال د معرفي کولو لايحه**

**مبنی:**

دا لايحه د ټاکنو قانون د (۷۹) مادي پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کميسيون (له دې وروسته کميسيون) تصويب شو.

**موخه:**

دا لايحه د ۱۳۹۳ کال په ولسمشري ټاکنو کې د مړيني، استعفا، ناعلاجه او په داسي ناروغي د اخته کېدو په صورت کې چې د هغه د نوماندي مخه نيسي د ولسمشري نوماند د نوي مرستيال د معرفي کولواړوند چارې تنظيموي.

**د نوماندانو د وروستي نوملړ له اعلان دمخه د انصراف دوره**

**لومړی ماده :**

کله چې د ولسمشري نوماند يو يا دواړه مرستيالان له نوماندي څخه د نوماندانو د تېرېدو له ټاکلي دورې پورې انصراف کوي يا مړ کېږي يا په ناعلاجه او يا هم داسي ناروغي اخته کېږي چې د نوماندي مخه يې نيسي، د ولسمشري نوماند مکلف دی ژر تر ژره بل کس د خپل مرستيال په توګه کميسيون ته ور وپېژني.

**د نوماندانو د وروستي نوملړ له اعلان وروسته د انصراف دوره**

**دويمه ماده:**

۱: د ولسمشري نوماندان نه شي کولی د انصراف دورې له پايته رسېدو وروسته خپل مرستيالان ليرې او يا هم ليرې کېدو ته اړ کړي.

۲: کله چې د ولسمشري نوماند يو يا دواړه مرستيالان د انصراف دورې څخه وروسته مړه او يا استعفا وکړي يا په ناعلاجه ناروغي اخته شي ، د ولسمشري نوماند مکلف دی ژر تر ژره په ۷۲ ساعتونو کې د مرستيالي په شرطونو برابر بل کس په ليکلي ډول د مرستيال په توګه له لازمو اسنادو سره يو ځای کميسيون ته ور وپېژني.

۳: د ولسمشري نوماند مکلف دی چې د نوي مرستيال بشپړ شهرت د رسنيو له لارې خلکو ته اعلان کړي.

۴: د انصراف دورې له پايته رسېدو وروسته که د ولسمشري نوماند يو يا دواړه مرستيالان انصراف کوي، نو د ولسمشري د بل نوماند د مرستيال په توګه نه شي معرفي کېدلی.

**اعتراضونو ته د رسېدلو دوره:**

**دريمه ماده:**

۱: کميسيون د ولسمشري نوماند د نوي مرستيال شهرت خپروي.

۲: هر کله چې په (۱) فقره کې ليکلي مطالب د انصراف دورې په وروستيو ورځو کې او يا د دويمي مادې له ( ۲) فقرې سره اتفاق ومومي او د ولسمشري نوماند نوی مرستيال کميسيون ته ور وپېژني، کميسيون د نوي مرستيال په هکله ( ۷۲ ساعته دوره اعتراضونو ته درسېدلو لپاره په پام کې نيسي.

۳: که نوی مرستيال په شرايطو برابر نه وي، د ولسمشري نوماند لږ ترلږه په ۴۸ ساعتونو کې د وروستي ځل لپاره بل په شرايطو پوره کس معرفي کوي چې په دې صورت کې د دې مادې په (۱ ،۲ ،۳) فقرو کې ليکلي حکمونه اود دې لايحې د دويمي مادې (۳) فقره د تطبيق وړ دي.

۴: د ولسمشري نوماند د وروستي ځل لپاره خپل مرستيال د رايو ورکولو له ورځې څخه حداکثر ۷۲ ساعته دمخه کميسيون ته ور پېژني.
۵: که د ولسمشري نوماند مرستيال دويم ځل هم په شرايطو برابر نه وي، په دې صورت کې نوماند مستعفي ګڼل کېږي او رايې يې هم نه شمېرل کېږي او کميسيون ټولو خلکو ته موضوع اعلانوي.

**د ټاکنو په ورځ او يا د ټاکنيزو پايلو له اعلان وروسته د ولسمشرۍ نوماند د مرستيال استعفی او يا مړينه**

**څلورمه ماده:**

کله چې د ولسمشري نوماند يو مرستيال د رايو ورکولو په جريان کې يا د پايلو له اعلان وروسته استعفی ورکړي او يا ومري، نو پر ځای يې بل کس د ولسمشر له خوا د ولسي جرګې په تايد ټاکل کېږي.

**انفاذ:**

**پنځمه ماده:**

دا لايحه له تصويب وروسته نافذه او خپرېږي.